## پاملرنه!

په لندو معلوماتو کې یواځې د اهمیت وړ لاربښووني راوړل شوي. وړاندې معلومات زموږ په ویبپاڼه **www.vz-bw.de/beratung** او یا زموږ په مصلحت پاڼه کې موندلی شئ. په ځانګړو حالاتو کې به ښه دا وي چې پخپله راشي او لاربښوونه ترلاسه کړی.

### ژبنی ربړې او خنډونه

په تېره بیا پناه وړونکو او اقامت (Duldung) لرونکو ته د اهمیت وړ ده چې پوه شي: د قانوني لاملونو له مخې موږ خپلې لاربښووني یواځې په جرمني ژبه سر ته رسوو، تر څو د غلط پوهېدنې مخه ونیول شي. هغه څوک چې زموږ لاربښووني غواړي، نو ښايي چې په جرمني ژبه په بسیا کچه پوه شي او یا یو بالغ ژباړونکی ورسره راولي.

## زموږ وړاندیني

جرمن ته په راتګ سره پناه وړونکي – د مستهلکینو په توګه هم- له ګڼ شمېر ستونځو سره مخامخ دي. که چېرته د پناه وړونکو او کاروکوونکو تر منځ غلط فهمي رامنځ ته شي، نو د پناه وړونکو مرستیالان لومړي کسان دي، چې ورسره خوښه وشي. نو ځکه د مستهلکینو مرکز مرستیالانو او پناه وړونکو ته په ډول ډول وړاندینو سره ملومات ورکوي او مرسته ورسره کوي:

- له پناوړونکو سره اصلی او فخرۍ مرستیالانو ته معلومات او ذده کړه
- په انټرنېټ کې د پناوړونکو د پاره په ډېرو ژبو معلومات، د نورو ترڅنګ په عربي، انګریزي، او فارسي
- له پناوړونکو سره د مرستیالانو د پاه د مستهلکینو د موضوعګانو په برخه کې عمومي معلومات زموږ په مشورتي ځانګو کې
- د معلوماتو ځایونه

د پناوړونکو او له پناوړونکو سره د مرستیالانو د پاره د مستهلکینو ځانګړوموضوعګانو په هکله وړاندي معلومات په لاندي ویبپاڼه کې:
**www.vz-bw.de/fluechtlingshilfe**

## له پناوړونکو سره مرستندویه پروژه
## (PROJEKT FLÜCHTLINGSHILFE)

له پناوړونکو سره د مرستندویه پروژي له کارمندانو سره د لاندي برېښنالیک له لارې اړیکي ټینګولی شئ: **fluechtlingshilfe@vz-bw.de**

موږ ته ولیکئ، که چېرته د پناوړونکو د پاره د مستهلکینو د ژغورنې په هکله عمومي پوښتني لرئ، د پناوړونکو په هکله د مستهلکینو له ربړو سره مخامخ کېږئ او غواړئ له موږ سره نور معلومات شریک کړئ.

## د روڼ او معلومات ټلفون

د مستهلکینو د ځانګړو ربړو په برخه کې موږ په لبوالتیا سره معلومات او خوښه درکوو.
په لاندي شمېرې سره له دوشنبې څخه تر پنجشنبې پورې له 10 نه د ماښام تر 6 بجو او د جمعې په ورځ له 10 څخه د غرمې تر 2 بجو پورې نوبت نیولی شئ **(0711) 669110**

د صلاحکارو ځانګو لنډه کتنه:
**www.vz-bw.de/beratung-vor-ort**

څوک کومي بیمي ته اړه لري او کومي بیمي ګراني او اضافي دي، د (Richtig versichert) (کتاب کې چې 184 مخونه لري او بیه یې 16,90 یورو جمع د ډاګ لګښت ده، E-Book چې بیه یې 13,99 یورو ده: په ټولو بیو کې استهلاکي مالیه شامله ده): **www.vz-bw.de/ratgeber**


**پته**
Verbraucherzentrale Baden-Württemberg e. V.
Paulinenstraße 47 | 70178 Stuttgart
تلفون: 10 91 66 (07 11) | فکس: 50 91 66 (07 11)
info@vz-bw.de | www.vz-bw.de



د سرېزي انځور: T.Dallas / Shutterstock

د Baden-Württemberg ایالت د کلیوالو سیمو د وزارت او د مستهلکانو ژغورندویې اداري په ملاتړ

د 2016 میلادی کال د نوومبر میاشت

Verbraucherinformation auf Pashto




verbraucherzentrale Baden-Württemberg

# په ساده توګه سره د بیمو څېړنه

د تاوان ورکوني او نارونغتیا بیمه

# په ساده ډول سره د بیمو څېړنه

## د تاوان ورکونې او ناروغتیا بیمه

په جرمني کې سرې کولی شي د ډېرو زیانونو په وړاندې بیمه کړي. خو کومه بیمه په ځانګړې توګه د اهمیت وړ ده او د هغه په هکله له چا څخه ښه معلومات واخلم؟ پاملرنه: ټرون ټرون دئ او نه ښایي چې په ډېره بیړه سره تر سره شي.

تر ټولو د اهمیت وړ د خپل لاسي تاوان او روغتیا بیمې دي یعنی (Krankenversicherung او private Haftpflichtversicherung).
د هستوګنې د ځای په اړوند دا هم کېدلی شي، چې د دولت لخوا بیمه شئ او یا د حکومتي ادارو لخوا د ډلئیزه بیمو وړاندیزونه تر لاسه کېدلی شي. نو ځکه د بیمې له ټرون څخه مخکې دا پوښتنه وکوی، چې بیمه یاستی او که نه.

### تاوان ورکونه څه ته وایي؟

د جرمن د قوانینو له مخې تاسې باید د هغه زیان تاوان ورکړئ، چې بل چا ته یې رسوئ. دا تاوان ورکونه (Haftpflicht) بلل کیږي او یا په بل عبارت سره: تاسې د زیان تاوان ګالئ.

### ښایي چې زه تل او د ټول زیان تاوان ورکړم؟

نه. تاسې به د هغه زیان تاوان ورکوئ، چې سمه پاملرنه مو نه وي کړې. نو په داسې ډول سره د زیان تاوان در په غاړه دئ. که تاسې د کوم زیان مخه نشوای نیولی، نو د هغه تاوان به هم نه ورکوئ.

**لومړی مثال:** تاسې پر بایسکل ځئ او ناوخته برک نیسئ. له دې سره پر یو موټر لګیږی او رنګ یې شکارې کوئ. دا تاوان باید ورکړئ.

**دوهم مثال:** یو څوک خپل مبایل Smartphon ته ګوري او پرته له پاملرنې څخه ستاسې د بایسکل مخ ته رادانګي. مبایل یې لویږي او ماتیږي. دا تاوان تاسې نه ورکوئ، ځکه دلته ستاسې ګناه نه وه.

### یوه د خپل لاسي تاوان بیمه څه شی ده؟ (PRIVATE HAFTPFLICHTVERSICHERUNG)؟

دا بیمه هغه تاوانونه ورکوي، چې تاسې یې مسئول یاست او ستاسې تاوان ګالي.
په **لومړي** مثال کې دا د بېرته رنګولو لګښت دئ.

د تاوان ورکونې بیمه دا مرسته هم کوي، که چېرته یو څوک له تاسې څخه پرته له سبب څخه د زیان تاوان غواړي. دې ته د حق ژغورنه وایي.

په **دوهم** مثال کې د مبایل Smartphon څښتن د یوه نوي مبایل د پاره پیسې غواړي، که څه هم تاسې باید هغه ورنه کړئ. بیمه له تاسې سره مرسته کوي، چې د ځان دفاع وکوی. بیمه د لیکلو غم هم خوري. که چېرته مدافع وکیل ته اړه لرئ، هغه ته هم بیمه پیسې ورکوي.

### آیا د خپل لاسي تاوان بیمه د اهمیت وړ ده؟

د خپل لاسي تاوان بیمه له ټولو شخصي بیمو څخه د زیات اهمیت وړ بیمه ده. د آلمان د قانون له مخې پرته له اقتصادي محدودیت څخه تاوان ورکوئ. دا چې دا څه معنی لري، په لاندې مثال کې څرګندیږي:

**دریم مثال:** تاسې پر سرک ځغلئ. شاوخوا نه ګورئ. یو سرویس موټر درڅخه چپیږي. سرویس ښویږي او له یوې ونې سره لګیږي. ډېر کسان ټپي کیږي. سرویس نور د مرمت یا جوړېدا وړ نه دئ. پرته د تاوان له بیمې څخه، ښایي چې ټول تاوان تاسې ورکړئ. دا کېدلئ شي ډېر ګران وي. په ناوړه حالت کې تاسې ټول عمر د هغه تاون ګالئ.

### څوک بیمه دي؟

د کورنۍ د تاوان ګالنې په یوې بیمې کې ټوله کورنۍ بیمه ده. کوچنیان د کورنۍ تاوان ګالنې په بیمه کې د لومړۍ مسلکي زده کړې Ausbildung تر پایه پورې بیمه دي.

د مجرد - تاوان ګالنې په بیمه کې، مجردان کولی شي خپل ځانونه یواځې بیمه کړي. تاسې هغه وخت مجرد یاست چې واده مو نه وي کړئ.

### د بیمې لخوا د ورکول کېدونکو پیسو اندازه څومره یا په بل عبارت، بیمه تر کومې اندازې پورې تاوان ورکوي؟

د بیمې اندازه د پیسو هغه لوړه کچه ده، چې له یوه زیان څخه وروسته ورکول کیږي. د بیمې ټوله اندازه ښایي لږترلږه 5 ملیونه یورو وي، خو ډېره وي هغومره ښه ده.

په **دریم** مثال کې به بیمې تر 5 ملیونو یورو پورې ورکولې.

### د خپل لاسي زیان رسونې د تاوان ورکولو بیمه څومره ګرانه ده؟

یوه ښه بیمه له ښو شرطونو سره په کال کې له 50 څخه تر 80 یورو پورې بیه لري.

### آیا زه روغتیایي بیمې ته اړه لرم؟

په جرمن کې اوسېدونکی هر څوک مجبور دئ چې روغتیایي بیمه ولري. پناه غوښتونکي د پناه غوښتونکو د قانون له مخې دا حق لري، چې د سختې ناروغتیا او خوږو په صورت کې د ډاکټر او غاښوډاکټر لخوا درمل پرې وشي. په دې کې دوا، بلنداژ او نور هغه لګښتونه شامل دي، چې د روغتیا د له منځه وړنې او د هغه د ناوړه پایلو د مخنیوي له پاره ضرور دي. مصنوعي غاښونه هغه وخت ابېنول کېدلی شي، چې په ځانګړو حالاتو کې د صحی لاملونو له کبله د ځنډ وړ نه وي.